مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

صلاح الدين سعيدي ۲۰۱۹/۰۴/۱۷

# تیر وختونه

تېروختونه يادول دى ډېر ضرور
خاطرې او كارنامې، همت، غرور

وياړدى، زمونږ شهيدانو كار نامې
دوئ د زړونو، ارمانونوسلسلې

تير يادونه تجربه ده سباوون ته
د قومونو ولسونو پيوستون ته

نه نفرت په هره سيمه خپرول دي
نه په تيرياد مليتونه جنګول دي

په خطاء سياسيت دهرجابر زوريږو
هم په خپلو تېروتنو خفه كيږو

دا مسيح مو نن، سبا ښكاره اشكار دى
زمونږ هيله سوكالي ده ښه روزګار دى

نه د چا سره زمونږه دښمني ده
كه انګليس كه امريكا كه جرمني ده

مونږ دهر خطاء سياست سره خلاف يو
مونږ خلاف دبد عمل او بې انصاف يو

خاطرې د تېر وختونو او يادونو
تجربه ده له ناكامو سياسيتونو

دا چې زغم او ګذشته مو عقيده ده
خو د تېرو ياد لرل ښه تجربه ده

اختلاف د انتقام په معنى نه دى
تجربه ده د ناكام په معنى نه دى

دا لاربنود دى د سبا ژوندون لپاره
ترينه درس دى دعبرت ، سمون لپاره

تېركه هير شي شهيد وينو ته توهين دى
تېرعبرت د هرې سيمې، سرزمين دى

------------------------------
ډاكټر صلاح الدين سعيدي
۱۶ ــ ۴ ــ ۲۰۱۹م ۰ كال



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ